# کوچنی عمل او ستر ثواب



راټولونه: عبد الله بن محمد السدحان

ژباړه: انـــدیال ساپی

۲۰۱۷ م

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



**په نیکو اعمالو باندی د خپل وخت مشغولولو په موخه ځینی هغه ویناوې او کارونه چې د نبی صلی الله علیه وسلم نه په کې لوی اجر او ثواب ثابت دی(۱).**

**لومړی: اسانه او غوره ویناوې چې اجر او ثواب یې څو چنده دی.**

**(۱)دا کلمات ویل:«سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ،سُبْحَانَ اللَّهِ الْعَظِيمِ».**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «كَلِمَتَانِ خَفِيفَتَانِ عَلَى اللِّسَانِ، ثَقِيلَتَانِ فِي الْمِيزَانِ، حَبِيبَتَانِ إِلَى الرَّحْمَنِ، سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ، سُبْحَانَ اللَّهِ الْعَظِيمِ»

ژباړه:«دوه کلمی او جملی دی، په ژبه یې ویل اسانه دی، په تللو کې درنی دی، او الله جل جلاله ته ډیری محبوبی دی:سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ، سُبْحَانَ اللَّهِ الْعَظِيمِ، پاکی ده الله تعالی لره سره د ثنا او ستاینی د هغه، پاک دی الله تعالی چې لوی ذات دی».

(۱)وروسته ذکر شوی ټول حدیثونه صحیح دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(۲) دا کلمات ویل: « سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ عَدَدَ خَلْقِهِ، وَرِضَى نَفْسِهِ، وَزِنَةَ عَرْشِهِ، وَمِدَادَ كَلِمَاتِهِ».**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دی: «لَقَدْ قُلْتُ بَعْدَكِ أَرْبَعَ كَلِمَاتٍ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ لَوْ وُزِنَتْ بِمَا قُلْتِ مُنْذُ الْيَوْمِ لَوَزَنَتْهُنَّ؛ سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ عَدَدَ خَلْقِهِ وَرِضَا نَفْسِهِ وَزِنَةِ عَرْشِهِ وَمِدَادَ كَلِمَاتِهِ».

ژباړه:«یقینا ما له تا وروسته څلور کلمات درې ځل وویل، کچیرې ستا د ټولې ورځې له ذکر سره وتلل شي نو له هغې به درانده وي: سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ عَدَدَ خَلْقِهِ، وَرِضَى نَفْسِهِ، وَزِنَةَ عَرْشِهِ، وَمِدَادَ كَلِمَاتِهِ، پاکي د الله جلا جلاله لره اوغوره ستاینه ده هغه لره په اندازه د مخلوقاتو د هغه، د نفس د رضا د هغه، په وزن د عرش د هغه، او په رنګ د کلماتو د هغه ».

**(۳) دا دعا ویل:« الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنِي هَذَا وَرَزَقَنِيهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّي وَلَا قُوَّةٍ».**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دی: «مَنْ أَكَلَ طَعَامًا فَقَالَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنِي هَذَا وَرَزَقَنِيهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّي وَلَا قُوَّةٍ، غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ».

ژباړه:«چا چې ډوډۍ وخوړه او بیا یې وویل: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنِي هَذَا وَرَزَقَنِيهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّي وَلَا قُوَّةٍ، پاکي ده هغه ذات لره چې ماته یې دا خواړه راکړه، او ماته رزق راکوی بغیر زما د قوت او طاقت نه، نو ټول مخکني ګناهونه به ورته وبښل شي».

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا رانگه د اوبو څښلو او جامو اغوستلو پر وخت هم دا دعا ویل.

**(۴) دا کلمات ویل:«سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيم وَبِحَمْدِهِ».**

نبی صلی الله علیه وسلم فرمایي:«مَنْ قَالَ: سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيم وَبِحَمْدِهِ، غُرِسَتْ لَه نَخْلَةَ فِي الْجَنَّةِ».

ژباړه:«چا چې دا کلمات وویل: سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيم وَبِحَمْدِهِ ،پاکی ده الله تعالی لره چې لوی ذات دی ، حمد او ثنا ده هغه لره، په جنت کې به د هغه لپاره د خرما نیالگی کیښودل شی».

**(۵) دا کلمات ویل: «سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ».**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دی: « مَنْ قَالَ حِينَ يُصْبِحُ وَحِينَ يُمْسِي: سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ مِائَةَ مَرَّةٍ حُطَّتْ خَطَايَاهُ وَإِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ البَحْرِ ،ولَمْ يَأْتِ أَحَدٌ يَوْمَ القِيَامَةِ بِأَفْضَلَ مِمَّا جَاءَ بِهِ إِلَّا أَحَدٌ قَالَ مِثْلَ مَا قَالَ أَوْ زَادَ».

ژباړه:«څوک چې سحر او ماښام سل ځله: سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ ووايي، ټول گناهونه به یې ورژیږی اگر که سمندر د زگ هومره هم وی، او قیامت په ورځ به څوک د ده نه په غوره عمل راتلل ونه کړی، مگر هغه څوک چې د ده په شان یا د ده نه زیات عمل(ذکر) یې کړی وی ».

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دویم: د ځینو ایتونو فضیلت.

### (۱) د ایت الکرسی ویلو اجر .

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دی: «مَنْ قَرَأَ آيَةَ الْكُرْسِيِّ دُبُرَ كُلِّ صَلَاةٍ مَكْتُوبَةٍ لَمْ يَمْنَعْهُ مِنْ دُخُولِ الْجَنَّةِ، إِلَّا الْمَوْتُ».

ژباړه:«څوک چې د هر فرضی لمانځه څخه وروسته ایت الکرسی ووایې پرته له مرگ څخه به یې بل څه جنت له ننوتلو منع نه کړي».

### (۲) سورت کهف اولنی لسو ایتونو د یادولو فضییلت.

نبی صلی الله علیه وسلم فرمایې: «مَنْ حَفِظَ عَشْرَ آيَاتٍ مِنْ أَوَّلِ سُورَةِ الْكَهْفِ، عُصِمَ مِنَ الدَّجَّالِ».

ژباړه:«چا چې د سورت کهف لومړنی لس ایتونه حفظ کړل، نو دجال له فتنی څخه به وساتل شی».

### (۳)« قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ» د ویلو فضیلت.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایې: « مَنْ قَرَأَ: قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ عَشْرَ مَرَّاتٍ بَنَى اللهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ».

ژباړه:«چا چې: قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ، لس ځله ووایه، الله جل جلاله به ورته په جنت کي مانۍ جوړه کړی ».

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دريم: د اذان او لمونځونو فضيلت

### (۱) سحر د سنتو ثواب:

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دی:«رَكْعَتَا الْفَجْرِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا».

ژباړه:«د سحر دوه رکعته سنت د دنيا او هغه څه نه غوره دی چې په دنيا کې دی».

### (۲) سحر د فرضی لمونځ اجر:

نبی صلی الله عليه وسلم فرمايې: «مَنْ صَلَّى الصُّبْحَ فَهُوَ فِي ذِمَّةِ اللَّهِ».

ژباړه:«چا چې د سحر لمونځ په جماعت سره وکړ دا د الله جل جلاله په ذمه کې دی».

### (۳) تکبير تحريمه(اولنی تکبير) د رانيولو ثواب:

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دی:«مَنْ صَلَّى لِلَّهِ أَرْبَعِينَ يَوْمًا فِي جَمَاعَةٍ يُدْرِكُ التَّكْبِيرَةَ الأُولَى كُتِبَ لَهُ بَرَاءَتَانِ: بَرَاءَةٌ مِنَ النَّارِ، وَبَرَاءَةٌ مِنَ النِّفَاقِ».

ژباړه:«څوک چې الله جل جلاله د رضايت لپاره څلويښت ورځی د جمع لمونځ وکړی، حال دا چې تکبير تحريمه رانيسی، د ده لپاره به دوه قسمه نجات وليکل شي:جهنم د اور نه نجات او بل د منافقت نه خلاصی».

### (۴) جمعی مانځه لپاره تياری نيول او هغی ته د وختی تللو ثواب:

نبی صلی الله عليه وسلم فرمايې:«مَن غَسَلَ يومَ الجُمُعةِ واغتَسَلَ، ثمَّ بكَرَ وابتكرَ، ومشى ولم يَركَب، ودنا مِن الإمامِ فاستَمعَ ولم يَلْغُ، كانَ له بكُل خُطوةٍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



عَمَلُ سنةٍ أجرُ صِيامِها وقِيامِها».

ژباړه:«څوک چې د جمعې په ورځ غسل وکړي او بیا وختي جومات ته پیاده لاړ شي، او امام ته نږدې د خطبې اوریدلو لپاره کیښني، او عبث کارونه ونه کړي، نو د ده لپاره به په هر قدم باندې یو کال د تهجدو او روژې ثواب ولیکل شي».

## (۵) د اذان او لومړۍ صف کې د لمونځ کولو فضیلت:

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلې دي:«لوْ يَعلَمُ الناس ما فِي النداءِ والصفِّ الأَوَّلِ؛ ثم لم يجدوا إلا أن يَستَهِمُوا عليهِ لاستَهموا».

ژباړه:«که چیرته خلکو د اذان او لومړي صف د لمانځه فضیلت پیژندلی، بیا به دوی نه موندلی بې لدې چې له یو بل سره پرې خسنې(قرعه اندازي) واچوي».

## (۶) د موکدو سنتو فضیلت:

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:«مَنْ صَلَّى فِي يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً بُنِيَ لَهُ بَيْتٌ فِي الْجَنَّةِ: أَرْبَعًا قَبْلَ الظُّهْرِ، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَهَا، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعِشَاءِ، وَرَكْعَتَيْنِ قَبْلَ صَلاةِ الْفَجْرِ».

ژباړه:«څوک چې په شپه او ورځ کې دولس رکعته سنت لمونځ وکړي، نو الله تعالی به ورله په جنت کې کور جوړ کړي»څلور رکعته د ماسپښین نه مخکې او دوه تر وروسته، دوه رکعته د ماښام نه وروسته، دوه رکعته د ماخوستن نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته او دوه رکعته د سحر لمانځه نه مخکی.

**(۷) د ماخوستن او سحر لمونځ په جمع باندی د کولو اجر:**

نبی صلی الله علیه وسلم فرمايي: «مَنْ صَلَّى الْعِشَاءَ فِي جَمَاعَةٍ، فَكَأَنَّمَا قَامَ نِصْفَ اللَّيْلِ، وَمَنْ صَلَّى الصُّبْحَ فِي جَمَاعَةٍ، فَكَأَنَّمَا صَلَّى اللَّيْلَ كُلَّهُ».

ژباړه:«څوک چې د ماخوستن لمونځ په جمع سره وکړی گویا کې دغه انسان نیمه شپه عبادت کړی، او څوک چې د سحر لمونځ په جمع سره وکړی گویا کې دغه انسان ټوله شپه عبادت کړی دی».

**(۸) سحر د لمانځه نه وروسته تر لمر ختلو پوری د الله تعالی ذکر کول او بیا دوه رکعته لمونځ کول:**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: «مَنْ صَلَّى الْفَجْرَ فِي جَمَاعَةٍ، ثُمَّ قَعَدَ يَذْكُرُ اللَّهَ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ، ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ، كَانَتْ لَهُ كَأَجْرِ حَجَّةٍ وَعُمْرَةٍ تَامَّةٍ، تَامَّةٍ، تَامَّةٍ».

ژباړه:«څوک چې سحر لمونځ په جمع سره ادا کړی، او بیا د لمر ختلو پوری د الله جل جلاله ذکر ته کیښنی، او بیا دوه رکعته لمونځ وکړی، نو دی لپاره به پوره د حج او عمری په اندازه ثواب دی».

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څلورم: د ناروغانو پوښتنه او د مړی جنازه کول

### (۱) د جنازی لمونځ او بیا مړی د خښولو ثواب:

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دی: «مَنْ شَهِدَ الجَنَازَةَ حَتَّى يُصَلِّيَ، فَلَهُ قِيرَاطٌ، وَمَنْ شَهِدَ حَتَّى تُدْفَنَ كَانَ لَهُ قِيرَاطَانِ»، قِيلَ: وَمَا القِيرَاطَانِ؟ قَالَ: «مِثْلُ الجَبَلَيْنِ العَظِيمَيْنِ».

ژباړه:«څوک چې د جنازی لمانځه ته حاضر شو نو د هغه لپاره د یو قیراط په اندازه ثواب دی، او څوک چې جنازی ته حاضر شو تر دی چې مړی دفن شی نو د هغه لپاره دوه قیراطه اجر دی، چا وپوښتل چې قیراط څه شی دی؟ هغه وویل: د دو لویو غرونو په څیر»عبد الله بن عمر رضی الله عنه وویل: یقینا مونږ ډیر قیراطونه ضائع کړی دی.

### (۲) مصیبت ځپلی ته د تسلی ورکولو اجر:

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:«مَنْ عَزَّى مُصَابًا فَلَهُ مِثْلُ أَجْرِهِ».

ژباړه:«څوک چې مصیبت ځپلی ته تسلی ورکړی نو د هغه لپاره به هم د هغی په شان اجر وی».

همدا شان فرمایي:«مَا مِنْ مُؤْمِنٍ يُعَزِّي أَخَاهُ بِمُصِيبَةٍ، إِلَّا كَسَاهُ اللَّهُ سُبْحَانَهُ مِنْ حُلَلِ الْكَرَامَةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ».

ژباړه:«هیڅ یو مسلمان خپل ورور ته د مصیبت پر وخت تسلی نه ورکوی، مگر دا چې الله جل جلاله به ورته د عزت جامی ورواغوندی».

(c) ketabton.com: The Digital Library



### (۳) ناروغ د پوښتنې ثواب:

نبی صلی الله علیه وسلم فرمايي: «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَعُودُ مُسْلِمًا غُدْوَةً إِلَّا صَلَّى عَلَيْهِ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ حَتَّى يُمْسِيَ، فَإِذَا عَادَهُ عَشِيَّةً صَلَّى عَلَيْهِ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ حَتَّى يُصْبِحَ، وَكَانَ لَهُ خَرِيفٌ فِي الْجَنَّةِ».

ژباړه:«نشته هيڅ مسلمان چې د سحر په وخت د بل ناروغ مسلمان تپوس وکړی مگر دا چې تر بيگاه پورې به ورله (۷۰۰۰۰) ملايکې د رحمت سوال کوی، او که چيرته د شپې لخوا يې پوښتنه وکړه نو تر سحره پورې به ورله (۷۰۰۰۰) ملائکې د رحمت سوال کوی، او د ده لپاره به په جنت کې د خرماو باغ وی».

## پنځم: د صدقې کولو ثواب او فضيلت

### (۱) د جومات جوړولو اجر:

نبی صلی الله علیه وسلم فرمايي: «مَنْ بَنَى لله مَسْجِداً وَلَوْ كَمِفْحَصِ قَطَاةٍ بَنَى اللهُ لَهُ بَيْتاً فِي الْجَنّةِ».

ژباړه:« څوک چې د الله جل جلاله لپاره جومات جوړ کړی اگر که د (قطاة نومې) مرغۍ د ځاله په اندازه هم وی، الله تعالی به ورله په جنت کې کور جوړ کړی».

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۲) د قرض ورکولو ثواب:

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يُقْرِضُ مُسْلِمًا قَرْضًا مَرَّتَيْنِ إِلَّا كَانَ كَصَدَقَتِهَا مَرَّةً».

ژباړه:« څوک چې يو مسلمان ته دوه ځلی قرض ورکړی، دا داسی ده لکه يو ځل چې يې صدقه کړی وی».

## (۳) د قرضداری او تنگ لاسی سره د اسانتيا کولو اجر:

نبی صلی الله علیه وسلم فرمايي:«كَانَ رَجُلٌ يُدَايِنُ النَّاسَ» ، " كَانَ يَقُولُ لِفَتَاهُ: إِذَا أَتَيْتَ مُعْسِرًا فَتَجَاوَزْ عَنْهُ، لَعَلَّ اللَّهَ يَتَجَاوَزُ عَنَّا، فَلَقِيَ اللَّهَ، فَتَجَاوَزَ عَنْهُ».

ژباړه:« يو سړی به خلکو ته قرض ورکولو نو خپل خادم(مزدور) ته به يې ويل: چې قرضداری ته ورشی نو اسانتيا ورسره کوه، ښايي الله جل جلاله له مونږ سره اسانتيا وکړی، نو د الله جل جلاله سره مخامخ شو نو وبښو».

## (۴) د صدقی او خيرات فضيلت:

رسول صلی الله علیه وسلم فرمايلي دی: «مَا نَقَصَتْ صَدَقَةٌ مِنْ مَالٍ».

ژباړه:«صدقه او خيرات مال نه کموی».

همدا شان يې بل ځای فرمايلی دی: «سَبَقَ دِرْهَمٌ مِائَةَ أَلْفٍ» قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ وَكَيْفَ؟ قَالَ: «رَجُلٌ لَهُ دِرْهَمَانِ فَأَخَذَ أَحَدَهُمَا فَتَصَدَّقَ بِهِ، وَرَجُلٌ لَهُ مَالٌ كَثِيرٌ فَأَخَذَ مِنْ عُرْضِ مَالِهِ مِائَةَ أَلْفٍ، فَتَصَدَّقَ بِهَا».

ژباړه:«کله يو درهم د يو لک درهمو څخه مخکی کيږی، چا وويل ای د الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیغمبره دا څنګه؟هغه وفرمایل: یو سړی سره دوه درهم دی  نو په یو باندی صدقه وکړی، او بل سړی سره ډیر مال دی نو د خپل مال څخه یو لک صدقه کې ورکړی».

## شپږم: د روژی نیولو او تراویح کولو فضیلت

### (۱) الله جل جلاله لپاره د روژی نیولو فضیلت:

رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلې دی:« مَن صامَ یوماً فِي سبیلِ الله؛ بَعدَ اللهُ وجْهَهُ عنِ النارِسبعینَ خریفاً».

ژباړه:«څوک چې د الله تعالی په لار کې یوه ورځ روژه شو نو الله جل جلاله به یې جهنم د اور نه د اویا(۷۰)کالو په اندازه لیری کړی».

### (۲) عرفی او عاشوراء ورځو د روژی نیولو فضیلت:

له رسول صلی الله علیه وسلم څخه عرفی ورځی د روژی نیولو پوښتنه وشوه، هغه وفرمایل:«یُکَفِّرُ السَّنَةَ الْمَاضِیَةَ وَالْبَاقِیَةَ»

ژباړه:«د تیر شوی او راتلونکی کال ګناهونه رژوی».

همدا رنګه تری عاشوراء ورځی د روژی تپوس وشو هغه وفرمایل:«یُکَفِّرُ السَّنَةَ الْمَاضِیَةَ».

ژباړه:«د تیر شوی کال ګناهونه ښښی».

(c) ketabton.com: The Digital Library



### (۳) امام سره د تروایح کولو ثواب:

نبی صلی الله علیه وسلم فرمايي:« إِنَّ الرَّجُلَ إِذَا صَلَّى مَعَ الْإِمَامِ حَتَّى يَنْصَرِفَ كُتِبَتْ لَهُ قِيَامَ لَيْلَةٍ».

ژباړه:«یقینا څوک چې امام سره د تراویح لمونځ وکړی تردی چې امام راستون شی نو د ده لپاره به ټوله شپه د لمونځ کولو(قیام اللیل) ثواب ولیکل شی».

## اوم: ذی الحجی میاشتی د لومړنیو لسو ورځو فضیلت

### (۱) د نیک حج کولو اجر:

رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلي دی: «مَنْ حَجَّ فَلَمْ يَرْفُثْ وَلَمْ يَفْسُقْ رَجَعَ كَهَيْئَتِهِ يَوْمَ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ».

ژباړه:«څوک چې د الله تعالی لپاره حج وکړی، د جماع او گناه کولو نه ځان وساتی، نو له حج څخه به داسی ستون شی لکه په کومه ورځ چې مور زیږولی وی».

همدا شان يې فرمايلي دی: «الْحَجُّ الْمَبْرُورُ لَيْسَ لَهُ جَزَاءٌ إِلَّا الْجَنَّةُ».

ژباړه«د نیک حج لپاره بدله نشته مگر جنت دی».

### (۲) لوی اختر د قربانی کولو ثواب:

نبی صلی الله علیه وسلم فرمایلي دی: «سُنَّةُ أَبِيكُمْ إِبْرَاهِيمَ» قَالُوا: فَمَا لَنَا فِيهَا يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: «بِكُلِّ شَعَرَةٍ، حَسَنَةٌ».

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه:«قربانی ستاسو د پلار ابرهیم علیه السلام سنت دی، نو هغوی وویل نو زمونږ لپاره په کې څه اجر دی؟ رسول الله وفرمایل: د هر ویښته په مقابل کې یوه نیکی ده».

## (۳) د ذی الحجی میاشتی په لومړنیو لسو ورځو کې دنیک اجر:

نبی صلی الله علیه وسلم فرمایي:«مَا مِنْ أَيَّامٍ الْعَمَلُ الصَّالِحُ فِيهَا أَحَبُّ إِلَى اللَّهِ مِنْ هَذِهِ الأَيَّامِ" يَعْنِي الْعَشْرَ، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَلاَ الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ؟ قَالَ: "وَلاَ الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، إِلاَّ رَجُلٌ خَرَجَ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فَلَمْ يَرْجِعْ مِنْ ذَلِكَ بِشَيْءٍ».

ژباړه:«نشته داسی ورځی چې الله جل جلاله ته په کې نیک عمل ډیر محبوب او خوښ وی مگر د ذی الحجی لس ورځی دی،نو صحابو وپوښتل: ای د الله رسوله د الله په لار کې جهاد هم ورته ډیر محبوب ندی د هغی نه الله ته ؟هغه وفرمایل: د الله په لار کې جهاد هم د هغی سره ندی برابر مگر هغه څوک چې د خپل ځان او مال سره د الله په لار کې ووځی او بیا له هیڅ شی سره راستون نشی».

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اتم: د ښه نیت،علم او عدل کولو فضیلت

### (۱) د نیک نیتي ثواب:

نبی صلی الله علیه وسلم فرمایي:«مَثَلُ هَذِهِ الْأُمَّةِ كَمَثَلِ أَرْبَعَةِ نَفَرٍ: رَجُلٌ آتَاهُ اللَّهُ مَالاً وَعِلْمًا، فَهُوَ يَعْمَلُ بِعِلْمِهِ فِي مَالِهِ، يُنْفِقُهُ فِي حَقِّهِ، وَرَجُلٌ آتَاهُ اللَّهُ عِلْمًا وَلَمْ يُؤْتِهِ مَالاً، فَهُوَ يَقُولُ: لَوْ كَانَ لِي مِثْلُ هَذَا عَمِلْتُ فِيهِ مِثْلَ الَّذِي يَعْمَلُ"، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "فَهُمَا فِي الْأَجْرِ سَوَاءٌ، وَرَجُلٌ آتَاهُ اللَّهُ مَالاً وَلَمْ يُؤْتِهِ عِلْمًا، فَهُوَ يَخْبِطُ فِي مَالِهِ، يُنْفِقُهُ فِي غَيْرِ حَقِّهِ، وَرَجُلٌ لَمْ يُؤْتِهِ اللَّهُ عِلْمًا وَلَا مَالاً، فَهُوَ يَقُولُ: لَوْ كَانَ لِي مِثْلُ ما لهَذَا عَمِلْتُ فِيهِ مِثْلَ الَّذِي يَعْمَلُ" قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "فَهُمَا فِي الْوِزْرِ سَوَاءٌ"».

ژباړه:«د دی امت مثال د څلورو کسانو په څیر دی:هغه څوک چې الله جل جلاله ورته علم او مال دواړه ورکړی وی، د علم له لاری خپل مال په خپل ځای(د الله په لار) کې مصرفوی، بل هغه څوک چې الله تعالی ورته علم ورکړی دی خو مال يې ندی ورکړی هغه وايي: که چیرته ما سره د پلانی په شان مال وی نو ما به د هغه څیر مصرف کړی وی، رسول صلی الله علیه وسلم وفرمايل: دا دواړه په ثواب او اجر کې یو شان دی، بل هغه کس دی چې الله تعالی ورته مال ورکړی خو علم یې ندی ورکړی، نو هغه پخپل مال کې ګډوډ وی، بی ځای يې(په حقه يې نه) مصرفوی، او بل هغه څوک دی چې الله تعالی ورته علم او مال دواړه نوی ورکړی خو دی وایي:که چیرته ما سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلانی په شان مال وی نو ما به د هغه په څیر مصرف کړی وی، رسول صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دا دواړه په گناه کې سره برابر دی».

## (۲) د علم فضیلت:

رسول صلی الله علیه وسلم فرمايلي دی: «مَنْ سَلَكَ طَرِيقًا يَبْتَغِي فِيهِ عِلْمًا، سَهَّلَ اللَّهُ لَهُ طَرِيقًا إِلَى الْجَنَّة،وَإِنَّ العَالِمَ لَيَسْتَغْفِرُ لَهُ مَنْ فِي السَّمَوَاتِ وَمَنْ فِي الأَرْضِ...».

ژباړه:«چا چې علم د زدکړی لار ونیوله نو الله تعالی به یې د جنت لور ته سیده کړی، او یقینا د عالم لپاره دځمکو او اسمانونو اوسیدونکی ښښنه غواړی».

## (۳) د عدل کولو فضیلت:

رسول صلی الله علیه وسلم فرمايلي دی:« إِنَّ الْمُقْسِطِينَ عِنْدَ اللَّهِ عَلَى مَنَابِرَ مِنْ نُورٍ عَنْ يَمِينِ الرَّحْمَنِ وَكِلْتَا يَدَيْهِ يَمِينٌ الَّذِينَ يَعْدِلُونَ فِي حُكْمِهِمْ وَأَهْلِيهِمْ وَمَا وَلُوا».

ژباړه:« یقینا عدل کونکي به د الله تعالی په وړاندی د رڼا په منبرونو باندی د هغه خی لور ته وی او د الله جلا جلاله دواړه لاسونه خی دی(څرنگه چې د هغه له شان سره مناسب دی) ، دا هغه کسان دی چې پخپله پاچاهی، اهل او دوی ته په ورسپارل شوی شیانو کې عدل کوی».

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نهم: د صبر او جهاد کولو فضیلت

### (۱) که څوک غواړی چې الله تعالی ورته په کار کې سختی اسانه کړی:

یوه ورځ فاطمه رضی الله عنها د نبی صلی الله علیه وسلم نه د خادم غوښتنه وکړه رسول صلی الله علیه وسلم فاطمه او علی رضی الله عنهما دواړو ته وفرمایل:«أَلَا أُعَلِّمُكُمَا خَيْرًا مِمَّا سَأَلْتُمَا إِذَا أَخَذْتُمَا مَضَاجِعَكُمَا أَنْ تُكَبِّرَا اللَّهَ أَرْبَعًا وَثَلَاثِينَ وَتُسَبِّحَا ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ وَتَحْمَدَاهُ [ص:93] ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكُمَا مِنْ خَادِمٍ».

ژباړه:«ایا تاسو ته هغه څه نه دربنایم چې هغه ډیر غوره دی د هغه څه نه چې تاسو یې غوښتنه کړی؟کله چې د خپل خوب ځای کې اړخونه ولګوی نو (۳۴)ځلی الله اکبر ووایې، (۳۳) ځلی سبحان الله ووایې،او(۳۳)ځلی الحمد الله ووایې دا ستاسی لپاره د خادم نه غوره دی».

### (۲) په سختی او تکلیفونو باندی د صبر کولو ثواب:

رسول صلی الله علیه وسلم فرمایې: «مَا يُصِيبُ الْمُسْلِمَ مِنْ نَصَبٍ، وَلَا وَصَبٍ، وَلَاهَمٍّ، وَلَا حَزَنٍ، وَلَا أَذًى، وَلَا غَمٍّ، حَتَّى الشَّوْكَةُ يُشَاكُهَا، إِلَّا كَفَّرَ اللَّهُ بِهَا مِنْ خَطَايَاهُ».

ژباړه:«نشته یو مسلمان چې هغه ته ستړتیا، پریشانی، خفګان، زیان او غم ورسی، تر دی چې اغزی یې په خپه کې لاړ شی مګر دا چې الله جل جلاله به

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې پدی سره گناهونه ورژوی».

**(۳) د الله جل جلاله له ویری د یو کار پریښودلو اجر:**

رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلې دی: «إِنَّكَ لَنْ تَدَعَ شَيْئًا اتِّقَاءً لِلَّهِ إِلَّا أَعْطَاكَ اللَّهُ خَيْرًا مِنْهُ».

ژباړه:«یقینا ته د الله تعالی له ویری کوم شی نه پریږدی مگر دا چې الله تعالی به درته د هغی غوره درکړی».

**(۴) د ژبی او شرمگاه د ساتنی ثواب:**

نبی صلی الله علیه وسلم فرمایې: «مَنْ يَضْمَنْ لِي مَا بَيْنَ لَحْيَيْهِ وَمَا بَيْنَ رِجْلَيْهِ أَضْمَنْ لَهُ الْجَنَّةَ».

ژباړه:« څوک چی د هغه څه ضمانت راکړی چې د دو ژامو او خپو ترمنځ دی(ژبه او شرمگاه) نو زه به ورله جنت ته د ننوتللو ضمانت وکړم».

**(۵) الله جل جلاله نه د ریښتنی شهادت غوښتلو اجر:**

رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلې دی: «مَنْ سَأَلَ اللَّهَ الشَّهَادَةَ بِصِدْقٍ، بَلَّغَهُ اللَّهُ مَنَازِلَ الشُّهَدَاءِ، وَإِنْ مَاتَ عَلَى فِرَاشِهِ».

ژباړه:«څوک چې الله تعالی نه په په ریښتنی د شهادت سوال وکړی الله جل جلاله به یې د شهیدانو مقام ته ورسوی اگر که پخپله بستره کې هم مړ شی».

**(۶) د الله جل جلاله په لاره کې د څوکی کولو ثواب:**

رسول صلی الله علیه وسلم فرمایې:«رِبَاطُ يَوْمٍ فِي سَبِيلِ اللهِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا

(c) ketabton.com: The Digital Library



عَلَيْهَا، وَمَوْضِعُ سَوْطِ أَحَدِكُمْ مِنَ الْجَنَّةِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا عَلَيْهَا».

ژباړه:« د الله جل جلاله په لاره کې یوه ورځ څوکی د دنیا او څه چې په دنیا کې دی له هغی غوره ده،په جنت کې ستاسی د لښتی (چوکی) په اندازه ځای له دنیا او څه چې په دنیا کې دی له هغی غوره دی».

### (۷) د الله تعالی له ویری د ژړلو اجر:

رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلي دی:« عَيْنَانِ لَا تَمَسُّهُمَا النَّارُ: عَيْنٌ بَكَتْ مِنْ خَشْيَةِ اللَّهِ، وَعَيْنٌ بَاتَتْ تَحْرُسُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ».

ژباړه:«دوه سترګی دی چې هغی ته اور نه رسی، یوه هغه سترګه ده چې د الله تعالی له ویری ژاړی او بله هغه سترګه ده چې د الله جل جلاله په لار کې څوکی کوی».

## لسم: د خپلوی پاللو فضیلت

### (۱) خاوند د خوشحاله ساتلو اجر:

نبی صلی الله علیه وسلم فرمایي:«أَيُّمَا امْرَأَةٍ مَاتَتْ، وَزَوْجُهَا عَنْهَا رَاضٍ، دَخَلَتِ الْجَنَّةَ».

ژباړه:«هره ښځه چې مړه شی او خاوند تری راضی وی، نو جنت به داخله شی».

### (۲) لوڼو د روزنی او پالنی ثواب:

رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلي دی:«مَنِ ابْتُلِيَ مِنَ الْبَنَاتِ بِشَيْءٍ، فَأَحْسَنَ إِلَيْهِنَّ، كُنَّ لَهُ سِتْرًا مِنَ النَّارِ».

ژباړه:«څوک چې په د لوڼو څخه په څه ازمیښت شی، نو له هغوی سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



احسان او ښه رویه وکړی دا به يې له اور څخه پرده شی».

**(۳) خپلوی د پاللو ثواب:**

رسول صلی الله علیه وسلم فرمايلي دی:«مَنْ سَرَّهُ أَنْ يُبْسَطَ لَهُ فِي رِزْقِهِ، وَأَنْ يُنْسَأَ لَهُ فِي أَثَرِهِ، فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ».

ژباړه:« که څوک خوښه ګڼی چې رزق يې پراخه شی او عمر يې زيات شی نو خپلوی دی وپالی».

## يوولسم: د محبت او ښی رويې فضيلت

**(۱) نيکانو خلکو سره د محبت او ناستی فضيلت:**

نبی صلی الله عليه وسلم فرمايي: «أَنْتَ مَعَ مَنْ أَحْبَبْتَ ».

ژباړه:«ته به له هغه چا سره يې چې ستا ورسره محبت وی»،أنس رضی الله عنه وايې:صحابه د دی حديث په څير په بل څه ندی خوشحاله شوی.

**(۲) د مؤمنانو نارينو او ښځو لپاره د ښښنی غوښتلو اجر:**

رسول صلی الله عليه وسلم فرمايلي دی: «مَنِ اسْتَغْفَرَ لِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ كَتَبَ اللَّهُ لَهُ بِكُلِّ مُؤْمِنٍ وَمُؤْمِنَةٍ حَسَنَةً».

ژباړه:«څوک چې د مؤمنانو سړو او ښځو لپاره مغفرت غواړی، نو الله تعالی به ورته د هر مؤمن سړی او مؤمنی ښځی په مقابل کې يوه نيکی وليکی».

**(۳) چا ته د نيکی او خير ښوولو ثواب:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول صلی الله علیه وسلم فرمايي: «مَنْ دَلَّ عَلَى خَيْرٍ فَلَهُ مِثْلُ أَجْرِ فَاعِلِهِ».
ژباړه:« چا چې نیکی او خیر ته لاربښوونه وکړه د هغه لپاره د کونکی په څیر اجر دی».

**(۴) د بی وزله او کونډی سره د ښیګړی او مرستی کولو اجر:**

نبی صلی الله علیه وسلم فرمايي: «السَّاعِي عَلَى الأَرْمَلَةِ وَالْمِسْكِينِ كَالْمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِ الله أَوْ الْقَائِمِ اللَّيْلَ الصَّائِمِ النَّهَارَ».
ژباړه:«د کونډی او بی وزله سره مرسته کونکی، د الله په لار کې د جهاد کونکی، د شپې تهجد کونکی او د ورځی روژه نیونکی په څیر دی».

**(۵) یتیم د پالنی ثواب:**

رسول صلی الله علیه وسلم فرمايلي دی: «أَنَا وَكَافِلُ الْيَتِيمِ فِي الجَنَّةِ هَكَذَا، وَقَالَ بِإِصْبَعَيْهِ السَّبَّابَةِ وَالوُسْطَى».
ژباړه:« زه او د یتیم سرپرست به د قیامت په ورځ داسی یو او بیا یې خپله سبابه او منځنی ګوته باندی اشاره وکړه».

**(۶) مسلمان ورور عزت نه د دفاع کولو اجر:**

نبی صلی الله علیه وسلم فرمايي: «مَنْ رَدَّ عَنْ عِرْضِ أَخِيهِ رَدَّ اللَّهُ عَنْ وَجْهِهِ النَّارَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ».
ژباړه:«څوک چې خپل ورور د عزت نه دفاع وکړی، نو الله تعالی به د قیامت په ورځ د ده مخ د اور نه لیری کړی».

(c) ketabton.com: The Digital Library



### (۷) د ملاقات په وخت کی یو بل ته د لاس ورکولو(مصافحه کولو) ثواب:

رسول صلی الله علیه وسلم فرمايي: «مَا مِنْ مُسْلِمَيْنِ يَلْتَقِيَانِ فَيَتَصَافَحَانِ، إِلَّا غُفِرَ لَهُمَا قَبْلَ أَنْ يَتَفَرَّقَا».

ژباړه:«نشته دوه کسان چې د لیدنی په وخت یو بل ته لاسونه ورکړی، مگر دا چې الله جل جلاله به ورته له جدا کیدو مخکی ښښنه وکړی».

## دولسم: د ښو اخلاقو فضیلت

### (۱) د ښو اخلاقو اجر:

نبی صلی الله علیه وسلم فرمايي: «إِنَّ الْمُؤْمِنَ لَيُدْرِكُ بِحُسْنِ خُلُقِهِ دَرَجَةَ الصَّائِمِ الْقَائِمِ».

ژباړه:«یقینا مؤمن په ښو اخلاقو باندی د رژوه دار او تهجد کونکی مرتبی ته رسی».

او همدا شان فرمايي:«وَبَيْتٍ فِي أَعَلَى الْجَنَّةِ لِمَنْ حَسُنَ خُلُقُهُ».

ژباړه:«د ښو اخلاقو خاوند لپاره د جنت په اوچت طرف کې یو کور دی ».

### (۲) لاری نه د ضرری شیانو د لیری کولو ثواب:

رسول صلی الله علیه وسلم فرمايلي دی: «لَقَدْ رَأَيْتُ رَجُلًا يَتَقَلَّبُ فِي الْجَنَّةِ؛ فِي شَجَرَةٍ قَطَعَهَا مِنْ ظَهْرِ الطَّرِيقِ كَانَتْ تُؤْذِي النَّاسَ».

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه:« ما یو کس ولید چې په جنت کې گرځیدو، د لاری څخه هغه ونی د پریکولو له امله چې خلکو ته یې زیان رسولو».

**(۳) غوسی او قهر د کابو کولو اجر:**

نبی صلی الله علیه وسلم فرمایي: «مَنْ كَظَمَ غَيْظًا وَهُوَ يَسْتَطِيعُ أَنْ يُنَفِّذَهُ دَعَاهُ اللَّهُ يَوْمَ القِيَامَةِ عَلَى رُءُوسِ الخَلَائِقِ حَتَّى يُخَيِّرَهُ فِي أَيِّ الحُورِ شَاءَ».

ژباړه:« څوک چې خپل قهر او غوسه کنترول کړی پداسی حال کې چې هغه د تنفیذولو توان لری، نو الله تعالی به یې د قیامت په ورځ د ټولو مخلوقاتو په مخکی راوبلی تردی چې د حورو په خوښولو کې به اختیار ورکړی».

**(۴) د جنجال او درغو پریښودلو اجر:**

رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلي دی: «أَنَا زَعِيمُ بَيْتٍ فِي رَبَضِ الْجَنَّةِ لِمَنْ تَرَكَ الْمِرَاءَ، وَإِنْ كَانَ مُحِقًّا، وَبَيْتٍ فِي وَسَطِ الْجَنَّةِ لِمَنْ تَرَكَ الْكَذِبَ وَإِنْ كَانَ مَازِحًا ».

ژباړه:« زه د جنت په غاړه کې د کور زموار یم د هغه چا لپاره چې جنجال پریږدی اگر که په حقه هم وی، او همدا رنگه د جنت په مینځ کې هغه چا لپاره د کور زموار یم چې دروغ پریږدی اگر کې په ټوکو کې هم وی».

## دیارلسم: الله جل جلاله سره د تعلق ساتلو فضیلت

**(۱) د اخرت په یاد ساتلو اجر:**

رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلي دی:«مَنْ كَانَتِ الآخِرَةُ هَمَّهُ جَعَلَ اللَّهُ غِنَاهُ

(c) ketabton.com: The Digital Library



فِي قَلْبِهِ وَجَمَعَ لَهُ شَمْلَهُ، وَأَتَتْهُ الدُّنْيَا وَهِيَ رَاغِمَةٌ».

ژباړه:«څوک چې د اخرت په غم او فکر کې شی، نو الله تعالی به يې په زړه کې قناعت پيدا کړی، او په اتفاق به يې کړی، او دنيا به ورته پداسی حال کې راځی چې ذليله به وی».

**(۲) په الله جل جلاله باندی په ريښتنی توکل کولو فضيلت:**

نبی صلی الله عليه وسلم فرمايي: «لَوْ أَنَّكُمْ تَتَوَكَّلُونَ عَلَى اللَّهِ حَقَّ تَوَكُّلِهِ؛ لَرَزَقَكُمْ كَمَا تُرْزَقُ الطَّيْرُ، تَغْدُو خِمَاصًا، وَتَرُوحُ بِطَانًا».

ژباړه:«که چيرته تاسو په الله جل جلاله په ريښتنی سره توکل وکړی، نو تاسی ته د مرغانو په څير رزق درکړی، چې سحر تشی ججوری ځی او ماښام ډکی ججوری راستنړی».

**وصلي الله وسلم وبارك على عبد الله ورسوله محمد، وعلى آله وأصحاله أجمعين**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د موضوعاتو نوم لړ:

ځینی هغه ویناوې او کارونه چې د نبی صلی الله علیه وسـلم نـه پـه کـې لوی اجر او ثواب ثابت دی.......................................................... ۱

لومړی: اسانه او غوره ویناوې چې اجر او ثواب یې څو چنده دی.... ۲

دویم: د ځینو ایتونو فضیلت........................................... ۵

دریم: د اذان او لمونځونو فضیلت: .................................... ۶

څلورم: د ناروغانو پوښتنه او د مړی جنازه کول ...................... ۹

پنځم: د صدقی کولو ثواب او فضیلت................................۱۰

شپږم: د روژی نیولو او تراویح کولو فضیلت............................ ۱۲

اوم: ذی الحجی میاشتی د لومړنیو لسو ورځو فضیلت ................۱۳

اتم: د ښه نیت،علم او عدل کولو فضیلت..............................۱۵

نهم: د صبر او جهاد کولو فضیلت....................................... ۱۷

لسم: د خپلوی پاللو فضیلت ........................................... ۱۹

یوولسم: د محبت او ښی رویې فضیلت ................................۲۰

دولسم: د ښو اخلاقو فضیلت ........................................... ۲۲

دیارلسم: الله جل جلاله سره د تعلق ساتلو فضیلت..................۲۳

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**